مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۶/۰۱/۰۲

# ۲۰۲۶ کال

## نړۍ ته ورپېښ ګواښونه

### ولې او څنګه؟

نړۍ په داسې شیبو کې نوي ۲۰۲۶ کال ته ګام ورواخیست، چې بشریت تر هربل وخت زیات له بالقوه ګواښونو سره مخامخ دی. د منځنی ختیځ کړکېچ نوي پیچلې اړخونه مومي او د روسیې و یوکراین د جګړې غوټه لاپسې سخته کیږي، داسې چې نه د ټرامپ په ګوتو خلاصېدای شي او نه د اروپا په غاښونو. د نړۍ له باروتي و ماتېدونکي حالت څخه هرهغه قدرت چې غواړي راهسک شي، ګټه پورته کوي. چین د پوځي پیاوړتیا ترڅنګ د پراختیاغوښتنې لپاره خپل بالقوه امکانات بالفعل کاروني ته وراړولي. اروپا، کاناډا، لاتینه امریکا، هیند، د هیندوچین حوزه او ټول هغه اقتصادونه چې د تعرفو په نوې لوبه کې زیانمن کېدلای شي، د ناټو غړیو هېوادنو په ګډون له امریکا پرته او پرڅان د تکیه کولو د هڅو دوران پیلوي.

دربیمه اقتصادي زړیزه پیل شوې ده، چې د نړیوال اقتصاد محوریت او مرکزیت به اسیا ته راولېږدوي. اسیا د سرشمېر له مخې لوی مارکېټ او لوی بشري ځواک لري، سرچینې یې زیاتې دي او اینرژیتیکه حوزه ورته نږدې ده، په وړاندې یې لویدیځ او امریکا له تکنولوژۍ، امنیت، فضایي اقتصاد، مدیریت او د وسلو له کاروبارسره غواړي په دغه نړیواله اقتصادي سیالۍ کې لویه برخه ورخپله کړي.

نړۍ تر سړې جګړې روسته د اتومي وسلو سیالۍ تر ټولو خطرناکې دورې ته ورننوتې ده. خو دا ټول د ګواښ اصلي زړی نه دی. د ګواښ اصلي لاوا (ایشنده اور) بل ځای پټه شوې ده، چې ښایي ناڅاپه د نړیوالو لویو ځواکونو د سیالۍ ډګر ته ورننوځي او د نړۍ ماتېدونکی نظم له منځه یوسي. دا ایشنده اور له ایډیولوژیکو وسلوالو اورپکو ډلو سره د لویو قدرتونو نوې لوبه ده.

د اورپکو بنسټپالو ډلو ریښه د لویدیځ او پخواني شوروي ترمنځ د سړې جګړې زماني ته رسیږي. هغه مهال امریکا او نورو شوروي ضد هېوادونو په ټوله دونیا کې افراطي ډلې وسلهوالې کړې او د شوروي په وړاندې یې په افغانستان او نوره نړۍ کې وجنګولې. د شوروي له سقوط څخه روسته دغه ډلې له خپل ټول زور او تشدد سره په میدان پاتې شوې، ښایي هغه مهال به یې بېرنی چاره دا انګېرل شوي وي، چې دا ډلې په خپلو منځونو کې سره وجنګول شي او د داسې سولنده (فرسایشي) جګړو په ترڅ کې به له پښو وغورځیږي او نور به نو کوم ګواښ نهپېښوي. د همدې لپاره یې دغه ډلې په افغانستان، منځني ختیځ، افریقا او د نړۍ په نورو سیمو کې په خپلمنځي جګړو کې ښکېل کړې او په خپله یې ننداري ته کېناستل.

د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر پېښو وښودله، چې دا ډلې ترسیمهییزو خپلمنځي جګړو ورهاخوا، نړیوال امنیت ته هم ګواښ پېښولی شي. د ترهګرۍ په وړاندې جګړه ظاهراً په دې موخه راپیل شوه، چې ګواکې د سړې جګړې دغه ایډیولوژیک پاتېشوني له منځه یوسي. خو د دې جګړې په ترڅ کې دوه بدلونونه راغلل، چې له دغو ډلو سره یې د لویو اقتصادي او پوځي ځواکونو د ستراتیژیک چلند پټه نقشه رابربنده کړه:

**لومړی:** لویدیځ ولیدل، چې د شوروي تر مړیني روسته د دوی په وړاندې نوي اقتصادي و پوځي قوتونه سر راپورته کوي، روسیه او چین د دې سیال ځواک په لومړي کتار کې دي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولئ

**دویم:** په ټوله نړۍ کې د افراطي ایډیولوژیکو اورپکو ډلو د نیابتي استخدام امکانات مطالعه شول او لوی قدرتونه ډاډمن شول، چې په نوي سیالی کې هم د شوروي په وړاندې د رامنځته کړای شویو افراطیونو دا درېیم نسل د نیابتي جګړهمارو په توګه کارېدلای شي.

دوښمن شته او وسله هم په لاس کې ده، نو څه ته ګورئ؟

د پورته یادو شویو بدلونونو ترڅنګ یو بل تغییر دا وو، چې د لویدیزو هېوادونو په شان نویو راپورته شویو اسیایي سیالانو هم د افراطي اورپکو د پخلا کولو او په نیابتي جګړو کې پهخپله کټه کارولو ستراتیژي ورخپله کړه. روسیې - چین او ان هیند، ایران، ترکیې او نورو سیمهییزو ځواکونو فکر وکړ: «ولې زمونږ غربي سیالان په اسلامي نړۍ کې افراطي ډلې زمونږ په ضد کارولای شي او مونږ د لویدیځ په وړاندې کټ مټ همدا کار کولای نه شو؟ څه پېښه ده؟» دوی هم وارله واره په سیمه کې خپل ځړي او ځارګر وګومارل چې د بېلابېلو سختدریځو وسلوالو ډلو ترمنځ ځانونو ته انډیوالان ومومي. په دې توګه د افراطي جګړهمارو ډلو د راخپلولو رقابت پیل شو او څرنګه چې دغو ډلو خپله بیه مخ په لوړېدو ولیده، نو په یوه نوي جرئت ډګر ته راووتل او پرځان یې بولی ولګوله. پاکستان چې د سړې جګړې پرمهال د دغو ډلو نړیواله اډه او مرکز و، هڅه وکړه د بېلابېلو لوریو ترمنځ یوځل بیا د دغو ډلو ټېکه ترلاسه کړي او چین، روسیې، امریکا او ناټو ته یې د خپلو نیابتي جګړو پرمخ بیولو لپاره ورکرایه کړي، خو نور نو دغو ډلو مخامخ ځان له لویو قدرتونو سره انډیوال کړی و او په پاکیستان یې چندان زړه نهواهه. له همدې کبله پاکیستان د ترهګرو ډلو د مدیریت له دریځ څخه پخپله د دغو ډلو د شخړو په ډګر واوښت او د نیابتي اورپکو ډلو د تاخت و تاز ډګر له منځنې ختیځه رانیولې، تر پښتونخوا، پاکیستان، افغانستان او افریقا پورې پراخ شو.

داعش، القاعده، د منځنۍ اسیا ډلې، د چین ایغوران، د میانمار اورپکي، جیش‌العدل، حزب‌التحریر، اخواني بنسټونه، د افریقا تر بوکو حرام او سلګونو نورو لویو او وړو ډلو پورې جوړښتونه په بازارکي د اخیستلو او استخدام لپاره چمتو دي، چې د نړۍ په کچ د لویو سره سیالو اقتصادي – پوځي قوتونو په نیابت استخدام شي او وینې وبهوي.
سیالو ځواکونو د دغو ډلو استخدام ته د «نړیوال تعامل» نوم ورکړ او په ځینو هېوادونو کې یې همدا ډلې واک ته ورسولې.

نور نو د ۱۹۹۰- ۲۰۲۱ پورې زمانه کې روزل شوي اورپکي جوړښتونه پټېدو ته مجبور نهدي، د دوی پر سر ایښې جایزې نورې نهشته، ملګري ملتونه هم د دوی تر واک لاندې سیمو ته د بشري مرستو رسولو په نوم د تعامل پیلولو دروازې پرانیزي او دغو ډلو ته په لوی لاس مشروعیت ورکول کیږي. ښایي سیال لوري به په راتلونکیو لسیزو کې د دغو اورپکو له ژاندارما شوي پوځي نظم څخه د درېیمې اقتصادي زرېزې په پیلامه کې، چې اصلي مرکز به یې اسیا وی، د خپل نفوذ او اغېز زیاتولو لپاره ګټه اخلي.

نړۍ د یوې نړیوالې جګړې په درشل کې ده، خو دا ځل رسمي لښکرونه د جګړې ډګرونو ته ډېر نه ورځي، د لښکرونو پرځای به تکنولوژي او همدغه نیابتي اورپکي جنګیږي. د بېپیلوټه (ډرون) تکنولوژۍ وړې و غټې وسلې دومره عامې شوې، چې اوس یې اورپکي جنګیالان هرځای لري، جګړه مار سپیان ( روبوټونه) او د سایبري حملو امکانات هم ښایي دغو ډلو ته ورکړل شي. د نړۍ په ځینو سیمو کې د دغو نیابتي پوځي ځانمرګیو وژونکیو تراکم دا ګواښ هم پیښولای شي، چې د کوم هېواد د ناخوندي اتومي وسلو تاسیسات په ګوتو ورشي. اروپا ته د روسیې له ګواښونو د اټومي جګړې پیښېدو ویره هسې هم زیاته ده، خو اصلي ویره به هغه وخت راڅرګنده شي، چې دغه نازولي بېمسئولیته نیابتي جنګیالي کوم ځای اټومي وسلوته لاسرسی ومومي.

د غزې زخم د همدې لپاره خونړی او زاولن پرښوول شوی، په سوریه کې پیښې، د ایران و عراق حالات، په یمن کې نوې ټکرونه، د سعودي او عربي اماراتو ناندرۍ، په بنګلهدیش کې د افراطیونو ځواکمنتیا، په سومالیا او ځینو نورو افریقایي هېوادونو کې تحولات د همداسې ګواښ څرګندې نښې دي.

د لویو قدرتونو جنون او د نوې زماني بداخلاقه یا بېاخلاقه سیاست دا ویره نوره یقین ته نږدې کړې ده، چې په نړیوال کچ د سړې جګړې د زماني د افراطي انسانوژونکیو ډلو نیابتي استخدام به بالاخره دا نړۍ په یوه داسې لویه تراژیدۍ اړوي، چې همدا اوس یې په متمدنه نړۍ کې ګڼ مبصران اندېښمن کړي دي.

یوه ساده مثال:

ټول هېوادونه په ظاهره له داعش یا القاعدې ډاریږي، د هغوی په وړاندې د مبارزې چیغې وهي، تر ټولو بدې ډلې یې بولي. هر یو یې ځان ته ګواښ ګڼي، ټول لوی قدرتونه خپل سیالان د دغو ډلو په پټ ملاتړ تورنوي، خو لاهم دا ډلې شته، روزل کیږي، وسلې ورکول کیږي، تر ټولو ډېر اقتصادي و تکنولوژیک امکانات لري، په همدې نړۍ کې یې د جغرافیو یوه برخه په واک کې ده، تبلیغاتي ماشینونه لري، ټګ راټګ کوي او ورځ تر بلې چاغیږي. رېښتیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

کیسه څه ده؟ هیڅوک نه‌پوهیږي، خو یوازیني څه چې معلوم دي هماغه ورځ تر بلې زیاتېدونکی ګواښ دی، چې د نړۍ قدرتونه به همدا ډلې له هرې خوا استخداموي او یو د بل په وړاندې به یې جنګوي، چې په اسیا کې د درېیمې زرېزې د اقتصادي دوران په درشل کې د ګټې وټې لویه برخه ورخپله کړي. په دې منځ کې اصلي قربانیان د هغو هېوادونو خلک او ملتونه دي، چې لوی قدرتونه په کې د دغو ډلو په «سپیناوي» او له هغوی سره په «تعامل» بوخت دي او هغه زمکې چې د دوی د نیابتي جګړو او ټکرونو په ټس کې به سوزي.

نړۍ ۲۰۲۶ کال کې یوه مبهم، مرموز، پیچلي خو حتمي پېښېدونکي ګواښ ته تر هربل وخته ډېره ورنږدې شوې ده. حل‌لاره د قرباني ملتونو ویښتیا، یووالی او راپاڅېدل دي، خو د داسې څه په وړاندې لویو ځواکونو دومره خنډونه پنځولي، چې د هیلو د رڼا ځرک یې هم لا وروژلی دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ